نصیراحمد مومند ۲۰۱۷/۰۵/۱۱

د مورد ورځی په ویاړ

پرته له شکه چې مور او پلار د انسانی ټولنو په ژوندانه کې هغه مهم شخصیتونه دي کوم چې شتون یې په هره ټولنه، هیواد او هره کلتور د ژوند په ډګ رکې ډیرمهم او با ارزښت دی، دعزت او احترام په نظرکتل کیږی. کورنۍ چې د ټولنی او ملتونو د جوړښت لمړنی بنیادی واحد دی، مور او پلارد دی واحد معماران او بنسټ ایښودونکی او شاه تیران ګڼل ګیږی او تاکونکی رول لوبوی. او همداسی کورنۍ دی چې د ماشوم د پاره د ښوونی او روزنی د لومړی ښوونځی او پوهنځی حیثیت لری، مور او پلار پکښی د لومړنی ښوونکو او روزونکو په حیث ماشوم ته پالنه او روزنه ورکوی.

د ویلو وړده چې د مور نقش او رول د پلار په اند دری ځله زیات دی. لهذا پدی مهال چې د مورد ورځی رسماً نمانځل کیږی، غواړم پخپل وارسره ټولو ګرانو افغان میندو ته که د هیواد په دننه دی یا په بهر،د نیکی هیلی اومبارکی په وړاندی کولوسره د میندو د مقام او مسوولیتونو په اړوند په لنډ ډول نظرواچوم.

زمونږ په افغانی ټولنه او هیواد کښی د مور د نړیواله ورځ هر کال د ځانګړو پروګرامونو په ترڅ کی نمانځل کیږي او میندو ته د سوغاتونو او د ګلانو ګیډۍ په ورکولو سره درناوی کیږي دغه عمل خپله د مور په مقابل د ټولنی د احترام او قدرشناسی یوه څرګندنه نښه او بیلګه شمیرل کیږی.

خو د عقیدتی او اخلاقی ډندو له مخی د مور درنښت او عزت یی پرځای او ادا کول نه د یوې ځاصی ورځی یا میاښت یا کال وجیبه ده بلکی هره شیبه او هره مهال د اولادونو او ټولنو له ډندو او مسوولیتونو څخه ګڼل کیږی. یقیناً چې مور دا مهربانه موجود،دددقدروړ او شتون یی یو لوی برکت او نعمت دي. د مور په کلمه کښی یو ډیر ښه او په زړه پوری غږ او سرود دی د مورکلمه د نړی په ستره قاموس کښی بهترینه معنی او د ګیتی په انتخاب شوی او ښایسته سموفونیو کښی ډیر په زړه پوری غږ ده . د دنیا د معرفت په کتاب کښی مورهغه نخبه کلمه ده چې زمونږ د هریوی د ژوندانه د لارو په مخ د یوی ښکلی تابلو په ټوګه قرار لری.

مور، د عشق او الفت زیږونکی او د مهر اوعطوفت پالونکی دی، مورهغه موجود ده چې د خپل ځان او نفس نه کموی او د وجود د عصاری نه خپل ماشوم روزی. دا هغه موجود دی چې په شهامت او میرانی له ناخوالیو سره لاس او ګریوان دی تر څو وکولای شی چې خپل ماشوم د هر راز اړتیا، درد ورنخ ، ظلم او بیعدالتی په مقابل کی پیاوړی کړی.

مور ماشوم د پاره د امن یو مضبوط پناه ګاه او لوړ حصار ګڼل کیږی، مور ماشوم د پاره نږدی غمخور، مونس، مرستندوی او لومړنی روزونکی او پالونکی ده. په هره مهال اوهره ځای کله چې د مور ښکلی او خوږه نوم واوریدل شی ، د دی په مقابل کی سړی بی له ځند او پرته له ارادی ځان پورولی او مدیون احساسه وی. ترڅوچې خپل مور ترڅنګه لرو، ځانته د نړی شته من ترین شخص احساسه وو. دا مورده کله چې د مینی او شفقت نه ډک او په دقت سره ماشوم ته نظر واچوی، هغه ماشوم په نعمتونو او مهربانیو کی دوپیږی.

د مور مینی ماشوم سره ملکوتی مینه ده، مونږ نشوکولای چې په ژبه یا څو لیکلی ښکلی او رنګینه کلمو او جملو ذکرکړو او وستایو، یا یی ولیکو، ځکه چې د مور د وجود تقدس له نور هر شی نه زښت ډیر او لوړدی، خو که خبره لنډ کړو چې مورهغه مقدس موجود دی چې وروسته له الله تعالی د پاک ذات نه هره ښایسته وصف ورته پرځای او ښکلی دی. دغه ډیرعالی او له معنی نه دکی ویل چې :

« بهشت د مور د رضا او د مور تر قدمونو لاندی دی.»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او یا:

جنت که رضای مادران است در زیر قدمهای مادران است

یابل ځای کی:

گویند مرا چو زاد مادر پستان به دهن گرفتن آموخت
شبها بـر گهـواره مـن بیدار نشست وخـفتن آمـوخت
دستم بگرفت و پا به پا برد تا شیوهٔ راه رفتن آموخت
پس هستی من ز هستی اوست
تا هستم و هست دارمش دوست

له دی ځایه چې زموږ پاک دین اسلام یو عدالت پالونکی ټولنیز دین دی او د انسانی ژوند په اړوند په هراړخیز ډول د خیر، ښیګڼی او انتظام د پاره بشپړجامع عادلانه آئین او نظام لری، پدی نظام کښی د ښځو او په خاصه ټوګه د مورمقام او منزلت ډیرلوړی دی. پر همدی لړ د مور او پلار د حقوقو د اداکولو او احترام رعایتولو د پاره په قرآن شریف او په نبوی احادیثو کی دومره تاکید شویدی چې د نورو مسایل او برخو په پرتله ډیرزیات دی. او په ډیرو آیتونو د مختلفو سورو کی والدینوسره نیکی او احسان کول او د دوی خوښی او رضایت ساتل او خدمت کول وروسته د توحید او یکتا پرستی او د الله تعالی له حقوقونه ذکرشویدی، د مور او پلار حقونه پیژندل د خدی تعالی د حقوقو سره همردیف راغلی دی، چې دا خپله د هغه د اهمیت او اعتبارڅرګند دلیل دی د بقری په سوره کښی د «۸۳» آیت چې ترجمه یی ولولو فرمایل شوی:
«بغیر د خدای (نورهیچ شی) پرستش مکوی، له خپل مور او پلار سره نیکی وکړی» . دا خپله د مور او پلار د احترام د درجی بیانونکی دی.

همدارنګه حدیث رسول کریم «ص» د ابو هریره «رض»نه روایت دی چې ویلی دی :
« د حضرت محمدرسول الله «ص» نه یو سړی دری ځله په تکرار وپوښتل چې ،ای د خدای «ج» رسوله ! زما د دوستی او ملګرتیا او مصاحبت د پاره څرنګه سړی ښایسته او مناسب دی؟ حضرت«ص» په دری ځله ځواب کی ورته وفرمایل: ستاسی مور. هغه سړي څلورم ځل دپاره سوال وکړ چې ورپسی څوک؟ رسول اکرم «ص» وفرمایل : ستاسی پلار .بناءً څرګنده شول چې د اسلام د احکامو اوعدالت پر بنسټ د مور حق د پلارنه مقدم ګڼل شوي ده.

د یوی ټولنی د خلکو توان او طاقت د هغی ټولنی د افرادو د ښایستوب او پوهنی په معیار پوری اړه لری. چې دا د مور دغیږی نه تومنه اخلی او قوام ته رسیږی. د شخصیت رشد د مور د غیږی نه شروع کیږی او تکامل کوی. د مور خورا مهمه ډنده د اولاد روزنه ده.

زمونږ هیواد پخپله غیږ کی داسی نومیالی میندی روزلی چې لویو ډګرونو او د پوهنی نړی ته یی ستر اولادونه وړاندی کړیدی .څرنګه چې میندی د اوسنی نسل اساسی پالونکی او روزونکی او د هیواد د سبا جوړونکی دی نو په حقیقت کی د بشری ټولنو واقعی تاداو ایښودونکی هم دی.

خو څرګنده ده هرڅومره چې مقام ،حقوق او امتیازات او صلاحتیونه لوړ او زیاتیږی په هماغه پیمانه د مسوولیت او ځواب دهی لمن هم پراخیږی، په همدی لړ د میندو د مسوولیتونو او وجیبو د ښه ترسره کولو په اړه زمونږ په مقدس دین کي ویل شویدی چې په هغو میندو رحمت نازلیږی چې د ژوندانه د ستونزو سره سره د خپل اولادونو په سالمی روزنه کی زیار باسی او مسوولیت احساس وکړی چې ایماندار او باعقیده خدمتګار زامن ټولنی او هیواد ته وړاندی کړی چې د هغی او ټولنی د هوساینی ،افتخار او سر لوړلی لامل وګرځی .

یو با مسوولیته مور ماشوم ته د ژوندانه سمی لارښیی، په ژوندانه کی د ستونزو په مقابل ورته ټینګار بخښی څو چې د ژوندانه په مبارزی او د خپلو انسانی ټولنیزو او ملی وجایبو په ترسره کولو کی بریالی اوسی .مور په جدی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او نه ستړی کیدونکی ډول د خپل ماشوم روغتیا که جسمانی وی که روانی او ذهنی څاری او د ټولنی دروغتیا او سلامتیا تاداو ایږدی .ځکه چې د روغتیا اساس د ژوندانه د پیل نه ایښودل کیږی .

څرنګه چې مخکی هم ذکرشول ماشوم لومړنی زده کړه او پوهنه له موره اخلی او دا مور ده چې په سړه سینه او مینه او نه ستړی کیدونکو کوښښ او زیار د خپل اولاد د لومړنیوورځو زده کړی څارنه کوی .همدا ډول د اولادو د اخلاق پالنه او څارنه د مو رله ډندو څخه شمیرل کیږی ځکه چې د شخصیت ستړعنصراخلاق او هیواد پالنه ده. له دی ځایه چې د مور مقام او منزلت ډیر لوړ او واجب الاحترام دی چې د اسلامی آئین او اصولو سره سم د بی احترامی یا ځورولو په وجه باندی اولاد ګنهکارکیږی . نو پر دی بناء د هغه مسوولیتونه هم دروند دی . هغه میندو چې خپل پورتنی ذکرشویو وجائب په څومره چې د مور وظیفی مهمی او درنی دی او احساس مسوولیت وکړی، همدومره مقام او منزلت او احترام ښه ټوګه ترسره کړی په حقیقت کی خپل ټولنی او هیواد جوړوی او د دایم د یاره پری ویاړی. څرګنده ده ، چې زیاتیږی او لوړلیږی .

هغه میندي بختوری او کامیاب دی او تل پاتی ویاړنی ور په برخه کیږی چې خپلو دغومهمواولوړومقام اوستړو ډندوته په ټوجه سره دټولنی او هیواد د اړتیا او د زمانی د اقتضاء سره سم خپل اولادونه د تقوا او فضلیت او د خلکو دغوښتنی سره سم چې د هیواد په درد دوا شی او دا اعتقاد او توان ولری چې د نن او سبا جوړول ډندو په غاړه لری. انصاف ولری ،درد من او وطن پالونکی وی ،د خپلو خلکو او ټولنی د هوساینی او نیکمرغی د پاره د وروری، برابری لاره غوره اوعملی کړی.

په درنښت

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ